د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama-afg.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**آغلی کاترین مبنګوی، دیونسیف داداری مشره ، ښاغلی شیګیرو اویاګی د یونسکو د اداری مشر او داکتره نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د اپریل ۲۱ نیټه کال ۲۰۰۸*

**د یوناما خبری کنفرانس**

**یوناما:** ستاسو ټولو سهار دې نیکمرغه وي. زما نوم نیلاب مبارز د یوناما د ویاند له دفتر څخه تاسو ته نننی مطبوعاتي کنفرانس ته هر کلی وایم. زموږ د نن ورځې ویاندان د هیواد په کچه د یونیسف د اداري استازی کاترین مبنګه، د ملګرو ملتونو د یونسکو او ښوونیز پروګرام د هیواد د کچې رئیس شیګیرو اویاګی دی. هغوي به موږ ته د ښووني لپاره د نړیوال عمل د اوونۍ په هکله معلومات راکړي. دا یو نړیوال کمپاین دی چې د ټولو لپاره د ښووني د اساسي حق څرګندوینه کوي. د سږ کال موضوع "د کیفیت لرونکي ښوونه او له محرومیته پرته روزنه" ده.

د ښووني او روزني لپاره د نړیوال عمل د اووني په مناسبت به د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ښاغلی کای ایده په کابل کې د اپریل د میاشتې په ۲۳ نېټه د یوه ښوونځي څخه لیدنه وکړي. موږ به په دې هکله ستاسو سره نور توضیحات سبا ته شریک کړو.

مخکې له دې چې موږ په خبرو پیل وکړو، غواړم د ولسمشر کرزی له خوا د نیمروز د ولایت په زرنج ښار کې د ځانمرګی بمي برید تقبیح کول، په کومه پیښه کې چې نږدې ۲۰ کسان چې د خاش رود د ولسوالی د پولیسو مشر او د نیمروز ولایت د سرحدونو د پولیسو قومندان هم په کې شامل وه او خپل ژوند یې له لاسه ورکړي، بیا تکرار کړم. دافغانانو په وړاندې دغه ډول بې شرمه بی اعتنایي او خپل سری عمل په هیڅ ډول او په هیڅ حالت کې د توجهی او منلو وړ نه دي.

موږ خپل افکار او خوا خوږي هغو کورنیو، هغو کسانو ته چې خپل ګران عزیزان یې له لاسه ورکړي یا ټپیان شوی او یا هغو کسانو ته چې د دې ویرجن عمل په واسطه اغیزمن شوي، وړاندي کوو.

## د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې اداره له بزګرانو سره مرسته کوي چې د هیواد په سویل کې د خوراکي توکو خوندیتوب ښه شي

د هیواد په سویل کې له ۶۵۰۰۰ څخه زیاتو کورنیو د اوبه خور له هغو اسانتیاوو څخه ګټه پورته کړې، چې د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د اداري له خوا برابری شوي دي .

له دغو اسانتیاوو څخه ۶۶ په کندهار، ۳ په هلمند، ۳ په نیمروز، ۴ په ارزوګان او ۱ په زابل کې دي .د

دغو پروژو په مټ ۱۰۰۰۰۰ هکتاره زمکه اباده شوې او د هیواد په سویل کې به د غلو دانو په تولید کې ۲۵ سلینه زیاتوالي رامنځ ته کړي .

دغه رغونه د خروب د بیرنی رغوني د پروژې (EIRP) یوه برخه ده چې د نړیوال بانک او د افغانستان د حکومت له خوا تمویل او د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د اداري په تخنیکي ملاتړ پلي کیږي، د ۲۰۰۹ کال د جنوري تر ۳۱ به د اوبه خور ورته اسانتیاوې د هیواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې برابری کړای شي .

## د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو د عالی کمیشنرۍ دفتر د افغانانو د راستنیدنې د خپلې خوښې پروګرام هغه وخت له سره پیل کړ چې سرک بیا پرانیستل شو.

د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو د عالی کمیشنرۍ دفتر د افغانانو د راستنیدني د خپلې خوښې پروګرام د یکشنبې د اپریل د میاشتې په ۲۰ نېټه د پشاور له لارې له سره پیل کړ.

دا لړۍ د ۵ ورځو څنډ (۱۵- ۱۹ اپریل) نه وروسته د پشاور- طورخم د سړک د بندیدو له امله بیا پیل شوه. د UNHCR د حیات آباد د خپلي خوښي د راستنیدني د پروګرام واحد په دغه موده کي تړلی وه او د هیوادوالو څخه غوښتنه شوي وه چي دي مرکز ته د بلي خبرتیا تر ورکولو پوري مراجعه و نه کړي. اوس مهال سړک د ترافیکو پر مخ پرانستي دي. اوس افغانان کولای شي د حیات آباد د بیا راستنیدني مرکز ته د راتګ په موخه مراجعه وکړي.

## د هرات او دایکندی په ولایتونو کي۶۰۰۰۰۰ ماشومان د پولیو په ضد واکسین کړای شوي

تیره اوونی د هرات او دایکندی په ولایتونو کي ۶۰۰۰۰۰ ماشومان د پولیو په ضد واکسین کړای شوي دي .د معافیت تر ملي ورځو (NID) لاندي، چي د عامي روغتیا د وزارت له خوا ترسره او د ملګرو ملتونو د ماشوم د وجهی صندوق) یونیسف (او د روغتیا د نړیوال سازمان له خوا یي ملاتړ شوي دي، نږدي ۵۵۰۰۰۰ ماشومان په هرات او له ۸۰۰۰۰ څخه زیات په دایکندی کي د دغي ساري ویروسي ناروغی څخه خوندي کړای شوي دي .
د معافیت دغه ملي ورځي ټول هغه ماشومان تر خپل پوښښ لاندي راولي چي عمرونه یي له ۵ کلونو څخه کم وي او دا واکسین په کال کي څلور ځلي تطبیق کیږي، دوه ځلي د پسرلی او دوه ځلي د مني په موسم کي.

## په ننګرهار ولایت کي ښځینه ډاکترانو ته د ښځینه ناروغیو او زیږون د روزنو په هکله روزني ورکړل شوي

په اوس حال کي د ننګرهار د روغتونو څخه نږدي ۱۷ ښځینه ډاکټراني د ښځینه ناروغیو او زیږون د روزنو په یوه دوه ورځنی ورکشاپ کي چي د یونیسف له خوا لاري ته اچول شوی برخه اخلي. دا کورس د عامه روغتیا د وزارت د روزونکو له خوا د ننګرهار ولایت په عامه روغتون کي لاري ته اچول شوی، تمه کیږي چي په دي ورکشاپ کي به د زیږون بیړنیو حالتونو د تنظیم په چارو کي د ډاکټرانو او قابله ګانو د مهارتونو او وړوالی د ښه کولو په چارو کي مرسته وکړي. ورته ډول دري روزنیز کورسونه د ۲۰۰۸ کال لپاره په نظر کي نیول شوي.

## د انتقالي عدالت په هکله د تیاتر ننداره

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د جرمني پراختیایي خدمتونو اداره (DED) او یوناما ویاړ لري چي سبا د اپریل د میاشتي په ۲۲ نېټه تاسو ته د روسیي په کلتوري مرکز کي تیاتر ښولو ته بلنه در کړي. د نمایش نامي عنوان AH5787 دی، دا د شخړو، تاوتریخوالی، ژوبلولو او د خلکو د روغولو د پروسي په هکله چي د تیرو کلونو سره تړاو لري، په هکله دی. لطفا لړ څه وروسته بلنه تر لاسه کړئ.

## شیګیرو اویاګی- یونسکو

ډیره مننه نیلاب، نن ورځ د روزنی لپاره د نړیوال عمل د اوونی لومړی ورځ ده، چي په دغه ورځ به د نړی ټول ملکونه به، تر ۲۰۱۵ پوری "زده کړه د ټولو لپاره" د موخی د لاسته راوړلو په خاطر خپلی ژمنی بیا له سره نوي کوي.

"کیفیت لرونکې زده کړه د ټولو لپاره: محرومیت اوس پای ته ورسوئ" د سږ کال د نړیوال عمل د اوونۍ موضوع ده. د زده کړی د ټولو لپاره مانا، د دې یقیني کول دي چې ټول ماشومان د ښه کیفیت لرونکې بنسټیزې زده کړې ته لاس رسي ولري. دا په دی مانا ده چې په ښوونځیوو او اساسي یا بنسټیزو زده کړو په پروګرامونو کې یو داسې چاپیریال رامنځ ته شي چې په هغه کې ماشومان هم کولای شي هم توامند شی او هم زده کړه وکړي. یو داسې چاپیریال باید خامخا د ماشومانو شاملوونکي، د ماشومانو لپاره اغیزناک، د ماشومانو لپاره په زړه پورې او د خوښۍ وړ وي، او د هغوي لپاره خوندیتوب ولري اود جنسیت په هکله حساس وي. د شاملوونکی زده کړې اصل د ځانګړیو اړتیاوو د زده کړې یا تعلیم په باب په نړیوال کنفرانس کې د (۱۹۹۴ کال د سالامانګا په اعلامیه) کې ثبت شوی و او د ښوونې او روزنې په باب د (۲۰۰۰ د سنیګال د داکار) په نړیوال کنفرانس کې یو ځل بیا تکرار او تائید شو.

اته کاله پخوا، په ۲۰۰۰ کال کې د سینګال په داکار کې، دولتونو او نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه، چې تر ۲۰۱۵ پورې، "زده کړه د ټولو لپاره" ۶ مرامونه لاسته راوړي چې د پام ټکی یې د تنکي ماشومتوب او پالنې زده کړه ده: عمومي لومړنۍ زده کړه، د ځوانانو او لویانو د زده کړې اړتیاوې، دسواد زده کړه، د جنسیت برابری او مساوات او د زده کړې ښه کیفیت. "زده کړه د ټولو لپاره" د نهضت د مخکښې ادارې موخه د یونسکو د سازمان او د ملګرو ملتونو له نورو نمایندګیو او پراختیایي اداره سره په ګډه دا ده، چې زده کړه د بشری حقونو په جمله کې د یوه بنسټیز حق په حیث بهتره کړي، د زده کړې کیفیت بهتر کړي او څیړنه، نوښت ګړي او د خبرو اترو سیاست، په ځانګړی ډول په پرمختللی هیودونو کې، وهڅوي.

د زده کړی په عرصه کې د نړیوالو د جدی تعهداتو سره سره، موږ لا تر اوسه هم سترو ننګونو سره مخامخ یو. ؛زده کړه د ټولو لپاره؛ د نړیوالې څارنې د ۲۰۰۸ له رپوټ سره سم چی په تیر نومبرکښی چاپ شوی، د نړۍ په کچه ۷۲ میلیونه ماشومان لا اوس هم په ښوونځیو کې ګډون نه لري. په افغانستان کې په دا تیرو دوو کلونو کې ښوونځیو ته د شاملیدلو د پرمختګ سره سره، داسې اټکل شوی ده چې د ښوونځیو د عمر د ماشومانو نیمایي برخه لا له ښوونځي څخه بهرپاتې دي، چې د هغوي ډیری نجونې، د قومي ډلو ماشومان، د کوچیانو ماشومان او هغه معیوب او معلول ماشومان دي، چې په لري سیمو کې اوسیږي. بې وزلي او ګوښه کول د بې برخې کولو او محرومیت ستر لاملونه دي.

د زده کړې حق د ټولو ماشومانو لپاره، نجونو، معیوبو او معلولو، کوچیانو ماشومانو د ښوونې او روزنې په ملي ستراتیژیک پلان کې چې د یونسکو په مرسته د پوهنی د وزارت له خوا جوړ او ځای کړای شوی دی. د یونسکو د زده کړې د فعالیتونو تمرکز، د افغانستان د پوهنې له وزارت سره مرسته کول دی چې په دې توګه هغه ظرفیتونه لوړ او پیاوړي کړي چې د لومړیتوبونو او مرامونو د لاس ته راوړلو له مخې په دغه تعلیمي ستراتیژیک پلان او د زده کړې د نړیوالو مرامونو له مخې ټاکل شوي دي.

یونسکو د پالیسۍ او تګلارې په سطحه د دې تبلیغ کوي چې د ملګرو ملتونو له نورو ادارو سره په نږدې همکارۍ کې په ټول تعلیمي سیسټم کې د زده کړې او جنسیت د برابرتیا حق لوری وټاکي. د ملګرو ملتونو د موسسو په تیره بیا یونیسف، یونسکو او نورو زیاتو همکارانو سره یو ځای په افغانستان کې د ټولو لپاره د زده کړې په موخه کار او تبلیغ وکړي. یونسکو د ښوونې او روزنې د وزارت سره د زده کړې د پالیسیو او نورو مواد د برابرولو په ډګر کې د ښوونکو او د دغه وزارت د کار کوونکو لپاره کار کوي. یونسکو د زده کړې د

هر اړخيز دوستانه چاپيريال لپاره د موادو بسته جوړه کړې ده. د يونيسف د ملاتړ سره دغه بسته به په درې او پښتو ژبو کې په راتلونکې مياشت کې چاپ او ښوونکو او د پوهنې د وزارت کار کوونکو باندې د روزنيزو پروګرامونو له لارې وويشل شي چې په کابل کې د عام شمول ازماينتي ښوونځيو کې په پراخه پيمانه وکارول شي.

يونسکو همدا ډول د پوهنې د وزارت سره د تعليمي کتابونو د ثانوي زده کړو د نوی نصاب او ديني کتابونو په چمتو کولو کې مرسته کوې. درسي کتابونه د زده کوونکو پر زده کړې مثبته اغيزه کوي او دوي کولای شي ټولنيز او اقتصادي نا مساعد شرايطو خنثی کړي. د درسي کتابونو او د زده کړې د موادو کيفيت يوه مهمه موضوع ده ځو چې د عام شمولو زده کړو سيستم ولرو او په دې توګه د زده کړې دوستانه چاپيريال رامنځته شي.

د دی موخی سره مرسته، چې تر ۲۰۱۵ کال پوری بيسوادی ۵۰ فيصدو پوری را ټيټه کړای شی، يونسکو به د پوهنی وزارت سره، په افغانستانی کې د سواد د ودی لپاره پروګرام، له لاری مرسته وکړی چې د جاپان د حکومت له خوايي ملاتړ کيږي او د پوهنی د وزارت له خوا به پلی شی. چې موخه يي په ۹ ټاکل شويو ولايتونو کې ۳۰۰،۰۰۰ بي سواده وګړو ته د ليک لوست د بنسټيزو او د هغه وروسته د نورو زده کړو د امکاناتو برابرول دي. زموږ لپاره دغه پروګرام يو له ننګونی ډک کار دي چې د ملګرو ملتونو د موسسو کومی چې د پوهنی په عرصه کار کوي، زيات ملاتړ ته اړتيا ولري.

دغه پروګرام د LIFE په چوکاټ کې جوړ چې د ځواکمنتيا لپاره د سواد د نوښت په نوم ياديږي او په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان د سواد په ملی چوکاټ کې په رسمي توګه منل شوی دی چې دا په ملي کچه د سواد لپاره يو نوښت دی چې د سواد په ډګر کې د ټولو برخوالو او ګډو اړخونو لپاره يو پلاتفورم او چوکاټ برابروي ځو په دې توګه خپل فعاليتونه پلان او سره همغږي او د سواد هغه موخي تر لاسه کړي چې د زده کړې په ملی ستراتيژی او د "زده کړه د ټولو لپاره" (EFA) کې يې يادونه شوی ده. تاسی پوهيږي چې په دغه هيواد کې د سواد زده کړه يوه ستره ننګونه ده. تر اوسه موږ ۱۱ مليونه بيسواده وګړي لرو چې په ځانګړي ډول په لريو پراته او کليوالی سيمو کې ميشت دي. دغه پروګرام به د دغو خلکو حياتی اړتيا ته ځواب ووايی.

په پاي کې زه دا وايم: د ملګرو ملتونو د موسسو په توګه زموږ نقش د زده کړې د سکتور لپاره د همغږی په ښه والی کې دی چې په دې توګه د ټولو لپاره د باکيفيته ښووني او زده کړو لپاره تبليغ وکړو. دا هم ډيره مهمه ده چې افغانستان د نړيوالي پوهنی د اجندا سره وتړل شي. په دې لړ کې راتلونکی هغه کنفرانس چې د زده کړې په عرصه کې د يونسکو د زده کړو د نړيوال بورډ له خوا د ۲۰۰۸ کال په نومبر کې جوړيږي او هغه به په دې موضوع (عام شموله زده کړې: راتلونکي لاره) تر عنوان لاندې وي او دا به يو امکان وي چې کومی پرمختياوی چې په افغانستان کې شوي، هغه له نورو سره شريکی کړای شی او د نورو هيوادونو د تجربو څخه هم ګټه واخيستل شی تر څو محروميت ته اوس د پاي ټکي کيښودل شی.

## کاترين مبنګوی (يونيسف)

آغلو او ښاغلو د رسنيو کارکوونکو دوستانو: يوه مياشت وړاندې موږ په افغانستان کې د ښوونځيو د نوی تعليمي کال د پيل شاهدان وو. موږ ټول پوهيږو چې په دې هيواد کې نيم نفوس د ۱۸ کلونو څخه لږ عمر لري

او د ښوونځي د عمر په لحاظ په نړۍ کې تر ټولو پورته تناسب (۷- ۱۲) لري. نږدې د ۵ افغانانو څخه یو یې په لومړنی ښوونځی کې دي.

موږ ویاړو چې ۶،۲ میلیونه ماشومان یوه میاشت تر مخه ښوونځیو ته ولاړل چې په دوی کې ځینې یې د لومړی ځل لپاره دي، دا د کورنی او زموږ د ټولو لپاره د خوښی ځای دی. د دې پرمختیا سره ولې موږ غواړو چې د نړیوال عمل تر نامه د افغانستان اوونی ولمانځو.

د دې هیواد نیمایي نفوس د ۱۸ کلونو څخه لږ عمر لري، که چیرې موږ ګورو چې ۶،۲ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته ځي، نو جوته ده چې موږ لا تر اوسه هم ګڼ داسې ماشومان لرو چې ښوونځیو ته نه شي تللای، نو دا همدا اوس حکومت، د تعلیم په برخه کې د دولت همکاران لکه ملګري ملتونه، یونیسف او یونسکو او نور د معارف مرستندویان باید لا هم ډیر څه وکړي، همدارنګه تاسو د رسنیو استازي، ډیر څه باید وکړي، چې موږ د دې ماشومانو لپاره د پوهنې امکانات ومومو او د دې حقونو څخه ملاتړ ولرو.

په کومه شمیره کې ماشومان د دې پرمختګ سره سره ښوونځي ته نه ځي، خو دغه ماشومان څوک دي، دا هغه ماشومان دي چې بې برخې شوي دي؟ اجازه راکړئ چې هغوي په شپږ کټګوریو کې را لنډ کړو.

لومړی کټګوري کار کوونکي ماشومان دي، معمولا موږ د ماشومانو د کار په اړه غږیږو، په لنډه توګه د ماشومانو د کار استثمار په نوم. د بده مرغه لا تر اوسه هم د شوونځي عمر ماشومان دي چې د ماشومانو پر کار بوخت دي چې په کوڅو کې ګرځي، په داسې حال کې چې باید په کوڅو کې نه واي. دا د حیرانتیا وړ نه ده ځکه چې په هیواد کې بې وزلي ده او د دې له امله موږ د داسې یوې عنعنې سره مخ یو چې ماشومان مرسته کوي څو چې خپلو کورنیو ته ګټه راوړي.

د دوهمی کتګوري په اړه چې زه غواړم و غږیږم، هغه د سړک په سر کارکوونکی ماشومان دي چې باید په ښوونځیو کې وي. یوازې په کابل کې د هغو ورستنیو شمیرو له مخې چې موږ یې لرو ۳۸۰۰۰ ماشومان له بده مرغه په سړکونو کار کوي، په داسې حال کې چې باید دوي په ښوونځیو کې واې. دغه سروی او مطالعه د یوی غیری دولتی موسسی د تیری دیس هومز او آشیانه له خوا به ۲۰۰۲ کال کې تر سره شوي ده. چې په دی توګه زموږ ارقام یو څه زاړه دي. هیله لرو چې ژر به ښی او کره شیمری ولرو. ځکه کله چې موږ شاو خوا ګرځو نو په سړکونو باندي زیات ماشومان زموږ د اندیښنی سبب ګرځی. دا زمونږ دنده ده چې هغوي بیرته ښونځیو ته بوځو. موږ باید په دی برخه کې نوښتګر ووسو، ځکه دوي هغه ماشومان دي چې د کورنیو سره مرسته او نفقه پیدا کوي. موږ د هغو غیر دولتی موسسو ستاینه کوو چې بدیل لاري چاری لټوی چې دغو ماشومانو ته د زده کړي شرایط برابر کړي. او موږ به له نږدی د هغوي سره خپل کار ته دوام ورکړو. دا د کورنیو لپاره غوره ستراتیژه ده څو چې بیوزلی پایته ورسول شی. که چیری هغوي خپل ماشومان ښوونځیو ته نه استوي نو په دي توګه به هغوي بیوزلی راتلونکو نسلونو ته ولیږدوی.

موږ په ملګرو ملتونو کې د ننه او له خپلو تعلیمي شریکبانو سره وایو چې د بې وزلی لپاره بهترین واکسین ښوونه او روزنه ده. یو بې تعلیمه ماشوم د یو لوی شخص په حیث محدود امکانات لري او ډیر امکان لري چې له بیوزلی سره لوی شي او دغه بې وزلی خپلو ماشومانو ته په میراث پریږدي.

دغه د نسلونو په منځ کې د انتقال کړی ده چې د ښووني او روزنې ټول شریکان په دې هیواد کې او یو نیسف کوښښ کوي چې ماته یې کړي. کورنیو ته د دې موقع ورکول چې خپل ماشومان ښوونځی ته ولیږدوي هغوي

ته د دې موقع ورکول دي چي خپلو ماشومانو ته د استعدادونو وسله ور په لاس کړي څو په راتلونکی کې خپله بې وزلي پای ته ورسوي.

د محروم ماشومانو دریمه ډله هغه ماشومان دي چي له قانون سره په لانجه کې دي. د هغوي ډیر شمیر د بیا رغوني په مرکزونو کې ځانونه مومي او یو شمیر یې جیلونو ته ځي. هیڅ ډول اداري ګرځول به د دغو ماشومانو ستونزو ته د حل لار را نه وړي. د بدلون پروګرامونه او یا د ټولني کار به هغوي په دې وتوانوي چي په ټولنه کې پاتې شي او په ټولنه کې له سره ورغول شي. د ماشومانو د ساتني د عمل ولايتي شبکې چي په هغو کې دولت او نور شریکان ګډ دي کار یې دا دي چي ټولنیز کارکوونکي وروزي چي هر اړخیزه تدابیر منځ ته راوړي چي د تنکي ځوانانو د جرایمو مخه د کورنی او ټولني په ځواکمني بوختیا سره ونیسي.

له تعلیم څخه بې برخي د ماشومانو یوه بله ډله هغه ماشومان دي چي په زندانونو کې له خپلو میندو سره اوسي.

کوم ماشومان چي معیوبتیا لري هم د زده کړې د بې برخیتوب څخه ځوریږي. اوس موږ په کابل کې لس ښوونځي لرو چي هغه په یوه ازمایښتي پروژه کې بوخت چي د معیوبتیا لرونکو ماشومانو لاس رسي تضمین کړي. په پای کې هغه ډله چي زه غواړم ټینګار ورباندي وکړم، نجوني دي. موږ لا تر اوسه هم ۱،۲ میلیونه د ښوونځي د سن نجوني لرو، چي هغوي ښوونځیو ته لاس رسي نه لري. زه فکر کوم موږ او تاسي د رسنیو غړي ټول یو رول باید ولوباوو. په ځینو پیښنو کې ښوونځي نه شته خو حتی چیرې ښوونځي هم شته ټول ترې ګټه نه اخلي. موږ ډیر کار لرو چي سر ته یې ورسو څو ډاډ تر لاسه کړو چي ټول هغه شرایط برابر شوي دي چي ښوونځي د نجونو لپاره یو اشنا ځای دی. پایله یې په دغه هیواد کې د ښځو د بې سوادی لوړه کچه ده او موږ په دغو پایلو باندې هم له اقتصاد او روغتیا له نظره پوهیږو. د بې سوادی یو ستر اغیز د کورنی د چلولو په اړه شته او د ښووني او روزني اغیز د راتلونکی نسل لپاره.

نو یونیسف څه کوي چي مرسته وکړي؟ زما د یونسکو همکاران به د پوهني وزارت د ملي ستراتیژیک پلان په اړه څه و وایي، چي نوموړی یو هر اړخیز پلان دی او موږ د شریکانو سره کار کوو چي د دغه پلان ملاتړ وکړو. د دغه پلان د نورو فعالیتونو په منځ کې چي د یونیسف له خوا یې د یونسکو او نورو شریکانو په همکاری مرسته کیږي د ښوونځیو ودانول دي، چي دا مهم کار دی ځکه لا اوس هم ډیر ځایونه شته چي ښوونځي کورنیو ته نږدې نه دي، په ځانګړي ډول د نجونو لپاره، په تیره بیا د ښځینه ښوونکو لپاره، د ټولني د مشرانو سره د خبرو کولو او له کورنیو سره د تعلیم د لومړیتوب ټاکلو په باره کې. خو همدارنګه تاسو د دې موضوع په باره کې معلومات لري چي موږ یې په دا نږدې وختو کې ورباندې کار کوو، چي هغه د یو ښوونځی برید دی. موږ د ښووني او روزني له وزارت سره مرسته کوو چي د ټولنو سره کار وکړي څو د ښوونځي د ساتني لپاره حل لارې پیدا کړي. په ۲۰۰۷ کې موږ د زده کړې لپاره یوه بودجه درلوده چي ۲۵ میلیونه وه او سږ کال په ۲۰۰۸ کې د موږ مرسته د تعلیم لپاره له حکومت سره ۲۷ میلیونه ده. زه غواړم له دغې موقع څخه په استفادې سره زموږ له ټولو مرستندویانو څخه مننه وکړم، چي زموږ لپاره یې دا ممکنه وګرځوله، چي په دې هیواد کې له زده کړې څخه د بې برخیتوب تشه له منځه یوسو.

## پوښتني او ځوابونه

**تمدن تلویزیون:** آیا دا رښتیا ده چې په دا تیرو کلونو کې تر ۶ میلیونو زیات ماشومان په ښوونځیو کې وه، خو د زده کړې د کیفیت په اړوند د دغو ماشومانو نیمايي په داسي ښوونځیو کې زده کړه کوي چې هلته د زده کولو لپاره د زده کړې مواد نه شته، آیا د یونیسف ستراتیژي د ښووني د کیفیت د لوړولو لپاره څه شي دی؟ دوهم تیره اوونی د افغان میرمنو ټولني د ماشومانو د جنسي ازارولو په باره کې رپوټ ورکړ. زه غواړم چې پوه شم چې آیا یونیسف دا خبره څیړلې ده او که نه؟

**یونیسف:** ستا د لومړۍ پوښتنې په اړه زه غواړم دا خبره څرګنده کړم چې د زده کړې د کیفیت د لوړولو لپاره ستراتیژي د افغانستان ستراتیژي ده. یونیسف او نور شریکباني د دې لپاره دي چې د دغې ستراتیژۍ ملاتړ د تخنیکي، مالي او داسي مرستو په برابرولو سره وکړي. د حکومت له خوا د یونسکو په مرسته یو ۵ کلن ستراتیژیک پلان جوړ شوی ده. چې یونسکو له هر وزارت سره د تخنیکي مرستې په برابرولو کې د ملګرو ملتونو یوه مخکښه ایجنسی ده. موږ ټولو په دغه پلان کې ونډه واخیسته او ملاتړ مو وکړ. دغه پلان په څرګنده توګه بیانوي چې څرنګه موږ غواړو د زریزې د پراختیايي مرامونو سره سم دواړه د لاس رسي او د ښووني روزني د کیفیت موضوعګانو سره چلند وکړو. د ښوونکو روزنه یو اړخ دی دا حقیقت چې ښوونکي په ښه توګه انتخابیږي او ښه روزل کیږي، ډیره مهم خبره ده. تعلیمي نصاب ډیر مهم دی، یو تعلیمي نصاب چې یوازې نظري نه دي بلکې ماشومانو ته دلوستلو، لیکلو او د ریاضیاتو د زده کولو مهارتونه ور زده کوي خو یو تعلیمي نصاب چې ماشومانو ته هغه څه ورکوي چې موږ ورته د ښووني او روزني په کړی کې د ژوند مهارتونه وایو، چې په دې ترتیب دوی به وکولای شي چې له ځانه پوره شي او که چیرې تاسي نوموړي ستراتیژیک پلان ته وګورئ هلته داسي اقدامات شته چې ماشومانو ته دا ډول مهارتونه ور کوي.

**یونسکو:** د زده کړې کیفیت زموږ هم یوه ستره اندیښنه ده البته د پوهنې وزارت په بشپړه توګه خبر دی که چیرې هغوي و نه شي کولای چې کیفیت لرونکې زده کړې چمتو کړي دا کیدای شي د برخیتوب یو دلیل شي. د ماشومانو د لیوالتیا ساتل خورا مهم دی، دغه اړخ بیا هم د ثانوي زده کړو په نوي تعلیمي نصاب کې منعکس شوی دی او اسلامي زده کړې همدارنګه. د دغه تعلیمي نصاب اړول په یو درسي کتاب باندې بیا هم په تخنیکي لحاظ مهمه موضوع ده. دا ځکه چې د یوه درسي کتاب د متن لیکنه د ماشومانو لپاره داسي بسته ده چې ډیر شیان ترې زده کړي. که چیرې د کتاب متن په ښه توګه نه وي لیکل شوي دا د موږ مخه نیسي چې ښوونځي له تلو سره د زده کوونکي لیوالتیا وساتو. نو له دې کبله کیفیت لرونکې زده کړه ډیره مهم ده او یونیسف او یونسکو د پوهنې له وزارت سره کار کوي چې د زده کړې کیفیت بهتر کړي. په خاصه توګه به تعلیمي نصاب کې او درسي کتاب او همدارنګه په تجهیزاتو کې، چې دا دري واړه د زده کړې وسیلې بلل کیږي. موږ به دغې هڅې ته په یوه ډیره جدي توګه دوام ورکړو، ځکه چې کیفیت او لاس رسي باید دواړه سره یو ځای وي. که چیرې یوازې لاس رسي پر مخ پرمختګ وکړي واقعي زده کړه د ټولو لپاره لاس ته راتلای نه شي.

**یونیسف:** دوهمه برخی د دی پوښتنی د ماشومانو د تحفظ په اړوند ده. زه غواړم ستاسو توجه هغه څه ته چې ما دمخه وویل راواړوم، او هغه د ماشومانو د تحفظ د شبکی د کار په هکله دي. چې موږ یې د عدلیې، د ټولنیزو چارو وزارتونو، پولیسو او نورو سره چې د هیواد په کچه د ماشومانو د تحفظ په فعالیتونو بوخت دي تر سره کوو. موږ ټول په دی باور یو چې د حل لاری د کورنی او ټولنی سره دی. او موږ باید د هغوي ملاتړ وکړو. تر هر څه موږ باید میندو او پلورونو ته لازم وسایل برابر کړو څو د دغه حالت مخنیوي وشی چې پکی ماشومان د قانون سره په تصادم کي راځی. په داسی حال کي چې د قانون احترام پر موږ ټولو لازم دی. که چیري موږ د ماشومانو لپاره سم کار و نه کړو، نو ماشومان مسولیت نه لري، موږ باید د ماشومانو د دغی شبکی له لاری د هغوی د آزارولو مسله حل کړو. باید خلک تر هر څه وړاندی و پوهیږی او د دی لپاره بنسټیز کاری وکړي څو په دغه واقعیت پوه شی چې د دی مسلی تر شا دی. جنسی آزار او یا هم پر ماشومانو جنسی تیري د منلو وړ نه دي. زه د یوي موږ، پلار او خور په توګه فکر کوم. تاسو ټول دا منی چې دا یو ناوړه عمل دي او د منلو وړ نه دي. زه په دی اړه عمومی غږیږم ځکه چې تفصیلی رپوټ نه لرم.

**ایرنا:** تاسو په خپلو یادښتونو کي هغو اړیکو ته اشاره درلوده چې د بیوزلی او د پوهنی څخه د محرومیت په اړه دي. دا مو وویل چې د تعلیم څخه محرومیت باید له یو نسل څخه بل نسل ته لیږ و نه کړي. د بیوزلی پای ته رسول د پوهنی څخه د محرومیت، په څه ډول مخه نیسی؟

**یونیسف:** دا یو پراخه ډګر دي. موږ به دی ته توجه وکړو چې د بیوزلی له منځه وړل ماشومان دی ته چمتو کوي او کورنیو ته امکان برابروی چې ځینی مهارتونه ولیږدول شی او ماشومان پر ځان متکی پاتی شی. ځکه که هغوي زده کړه وکړي او پر هغو ټولو فرصتونو باندي د راتلونکو ښاریانو په توګه و پوهیږي، نو بیا هغوي کولای شی چې د دی هیواد په اقتصاد کي لکه د نورو بالغانو په څیر ونډه ولري.

**یونسکو:** د بیوزلی د پایته رسولو او د زده کړو تر منځ اړیکی یوه پیچلی پوښتنه ده. ما هیڅکه هم د زده کړی د ودي او د بیوزلی د پاي ته رسولو په اړه داسی څیړنیز کار نه دي لیدلی. د اوږدي مودي پانګونی لپاره موږ ته په کار دي چې د ماشومانو لپاره د پوهنی په ډګر کي پانګونه وکړو او په لنډ مهاله موده کي موږ ته په کار دي چې د هغوي د میندو او پلورونو د مهارتونو په ډګر کي پانګه واچو تر څو چې هغوي پر ځان بسیا وي او په خوښی سره خپل ماشومان ښوونځی ته واستوي. خو د دی سره سره د موږ د پوهنی او د بیوزلی د پای ته رسولو تر منځ جوته اړیکه نه لرو. پوهنه په واقعیت کي د بیوزلی د له منځه وړلو لپاره د هیواد په کچه اوږ مهاله او لنډ مهاله پانګه ونه ده.

**سبا تلویزیون:** لکه چې تاسي پوهیږي ځیني کډوال افغانستان ته بیرته راستانیږي او ځیني کډوال ماشومان چې تیر کال بیرته راستانه شوي دي ښوونځي ته نه شي تلاي. همدارنګه یوه بله ستونزه هم شته هغه د سن لوی والی دی، د لوی سن او ماشومان نه شي کولای د مثال په توګه په لومړی معیار ښوونځي ته ولاړ شي. آیا تاسو د هغوي لپاره کوم ځانګړي پروګرامونه لرئ؟

**یونیسف:** لکه چي تاسي پوهیږئ موږ د ملګرو ملتونو ایجنسی لرو چي د کډوالی په موضوعاتو کي اختصاص لري او موږ له UNHCR له نږدې کار کوو، چي دا ډاډ تر لاسه کړو د ښوونځی د عمر ماشومان به وکولای شي ښوونځي ته ولاړ شي. د سن موضوع یوه ستونزه ده. څومره چي زما پوهه ده د هر عمر ماشومان کولای شي ښوونځي ته ولاړ شي او ځانونه ورسوي. د عمر زیاتوالی باید د بې برخیتوب لپاره یو بل دلیل و نه اوسي.

**یونسکو:** تاسو د ښوونځیو د هدف په اړه یوه په زړه پوري پوښتنه وکړه. د زیات عمر لرونکو ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو نمایندګی هڅه کوي چي یو انعطاف منونکي چلند منځ ته راوړي چي زده کوونکي د هغوي اړتیاوو او ایجاباتو سره سم و منل شي. د ټولني ښوونځي او په ټولني کي د زده کړې مرکزونه کولای شي د را ستنیدونکو او د ډیر عمر لرونکو شاګردانو لپاره زیاته انعطاف منونکي زده کړه چمتو کړي.

**بی بی سی:** تاسو د محرومیت په هکله خبري وکړي او دا مو هم وویل چي د ماشومان ډلي معارف ته لاس رسي نه لري. ستاسو په نظر کوم مهم چیلنجونه د ماشومانو د معارف په لاره کي پراته دي؟

**یونیسف:** یو شمیر زیات لاملونه او چیلنجونه موجود دي. افغانستان او افغانستان ته ورته هیوادونه د ورته ستونزو سره مخا مخ دي او موږ زیات چیلنجونه لرو. تر هغه ځایه چي د ښوونځیو د شتون مسله مطرح ده، موږ لا هم د کموالی سره مخا مخ یو. زه پوره شمیر په لاس کي نه لرم خو که چیري تاسو ستراتیژیک پلان ته وګورئ نو تاسو به وکولای شي دا شمیرني تر لاسه کړي. موږ د ښوونکو د کموالی سره مخ یو. که موږ دا مسله مطرح کړو نو بیا موږ د ښځینه ښوونکو د کموالی سره هم مخا مخ یو، که چیري موږ ښځینه ښوونکي ولرو نو بیا کیدای شي چي موږ زیاتي نجوني ښونځیو ته د تګ لپاره وهڅو. موږ د لیک لوست د موادو د کموالی سره هم مخامخ یو او موږ باید د معارف د کیفیت په هکله کار وکړو. دغه ټولي ستونزې چي را یو ځای کړو نو چیلنجونو ور څخه جوړیږي.
د هیواد په ځینو سیمو کي نا امني هم یوه ستونزه ده او له دې امله ځیني ښوونځي تړل شوي دي. موږ په دې هکله د حکومت سره کار کوو تر څو د ټولنو په مرسته دې مسلي ته د حل یوه لاره پیدا کړو. ټولني په دې ښې پوهیږي چي څنګه ښوونځي وساتي او موږ باید د دې لپاره ضروري مرستي برابري کړو. کاشکي ما ویلای شوای چي یوه ستونزه موجوده ده خو له بده مرغه نه شم کولای و وایم. دلته د لومړیتوبونو مسله هم ده او کورنی باید وهڅول شي ترڅو خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي. بنایي د هغو کورنیو لپاره چي زیاتي ستونزې ولري، ښوونځیو ته د ماشومانو استول یو لومړیتوب نه وي. خو حقیقت دا دی چي ښوونځیو ته د ۶،۲ میلیونو ماشومانو تګ د پام وړ دی. په ۲۰۰۲ کال کي یوازې ۱،۲ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته تلل، خو نن نږدې ۶،۲ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته ځي. تمه کیږي چي راتلونکی کال به زیات ماشومان ښوونځیو ته ولاړ شي.

**یونسکو:** زه د هغه څه سره چي کاترین وویل موافقه لرم. د معارف په چارو کي د ټولنو، مور او پلار او ټولني برخه اخیسته او د دې مسلي په نظر کي نیولو سره چي موږ د مالي، بشري سرچینو او لاس رسي په

برخه کې د زیاتو ستونزو سره مخامخ یو، ضروري ده. که چیرې موږ یوازې د رسمي معارف د ودې مسلې ته پام واړوه او که چیرې موږ د رسمي معارف د محدودیتونو په هکله پوره معلومات و نلرو، نو موږ نه شو کولای په دې هیواد کې د ټولو لپاره د معارف د ودې لپاره کار وکړو.
نو موږ باید ټولنه، مور او پلار د معارف په هر ډول مداخلتي پروګرام کې داخل کړو. دا ډیر مهمه مسله ده او یو زیات شمیر کسان لا هم په دې هیواد کې په دې هکله پوره معلومات نه لري. یونسکو او یونیسف نه یوازې د ماشومانو، مور او پلار، ټولنې د شمولیت لپاره هڅه کوي، په دې ډول موږ کولای شو په کمه بیه او د ټولو لپاره د معارف د محدودیتونو د چوکاټ په د ننه کې وده ورکړو.

ډیره ډیره مننه